قال النبی ﷺ «صلوا کما رأیتمونی أصلی».



# د پیامبر ﷺ
# د اودس او لمونځ
# طریقه

[سره د تعلیمي تصویرونو]



لیکوال: ابوشاکرمسلم

ژباړنه ام دجانه موحده

بسم الله الرحمن الرحيم

# د پیغمبر ﷺ د اودس طریقه:

**د اودس تعریف:** عبارت ده پاکی د وړوکي اودس ماتي نه ؛لکه:بول ،غایط ،باد ،درونډ او عمیقه خوب ،د اوښ غوښه ـ ـ

١: اودس کوونکی به مخکی له اوداسه په زړه کې نیت کوي ،او په ژبه به یې نکوی ځکه چې د رسول الله ﷺ نه ثابت ندی نیت په ژبه نه په اوداسه نه په لمونځ او نه په هیڅ عبادت کې ،او الله پوهیږي په هغه چې زړه کې دي نو څه حاجت ده ژبې ته ؟



٢: مخکې له اودس نه د «بسم الله» ویل ـ

٣: وروسته دې اودس کوونکی درې ځله لاسونه ووینځی ـ






٤: وروسته دې اودس کوونکی درې ځله خوله ،او پوزه ووینځي(او په یو روایت کې خپله پوزه دې سوڼ کړي )

٥: وروسته دې درې ځله مخ ومینځی ـ

[البته د (بر)د غوړ د یو نرمي نه تر بلې نرمی پورې او د (اوږدوالي ) هغه ځای چې وېښته شنه کیږي تر زنې پورې ]ـ



٦: وروسته دې لاسونه درې ځله ووينځي (چې د لاس ګوتو د سرونو نه دې شروع کړي تر څنګلو پورې ) بايد په وينځلو کې د ښي نه نه شروع وشی بيا چپ لاس.



٧: وروسته دې مسح وکړی د سر يو ځل[البته په اول ځل به لاسونه لانده کړي په اوبو ،او سر دې مسح کړي (چې د سر د اول قسمت نه تر اخر قسمت پورې به خپل لاس بوځي او بيا د اخر قسمت د سر (عقب د سر)نه به اول قسمت ته لاسونه راوړي.



٨: بيا دې مسح کړي خپل غوږونه يوځل [چې سبابه ګوته د غوږ سوري ته يوسي او د ابهامه ګوتې سره د غوږ شا مسح کړی].



٩: بيا دې دواړه پښې درې ځله ووينځي[چې د ګوتو د سرونو نه تر پوندو پورې ووينځل شي.او اول بايد ښي پښه وروسته چپه پښه ووينځل شی.

١٠: په اخر کې دې دا دعا وويل شی(اشهد ان لااله الاالله وحده لاشريک واشهد ان مُحَمَّدا عبده ورسوله» او:«اللهم اجعلنی من التوابين واجعلنی من المتطهرين».

# د پیغمبر ﷺ د لمونځ طریقه۔

**نیت:**د نیت مفهوم دا دی چي:قصد کول لپاره د عبادت د الله سبحانه وتعالی په لمونځ کي او تعینول د هغه په زړه کي [او تلفظ د نیت په ژبه د رسول ﷺ او صحابه کرامو ثابت ندي]۔

**تعلیق:**د سلف او خلف علماوو په دي اتفاق دی چي په ژبه نیت کول بدعت دی او په شریعت اسلامي کي کوم اصل نلری۔



**د افتتاح تکبیر:** وو رسول ﷺ چي کله لپاره د لمونځ کولو اودریده ،نو مخ یي قبلي طرف ته کوو او « الله اکبر» یي ویل۔

او وو رسول ﷺ چي لاسونه به یی قبلي طرف ته پورته کول (چي د لاس ورغوی او ګوتي یي قبلي طرف ته راتلي) تر نرمي د غوږونو پوري یا برابر د اوږو پوري [صحیح البخاری]۔



او وروسته رسول ﷺ بنبي لا د چپ لاس د پاسه په سینه باندي کیښوده۔



او وروسته رسول ﷺ د استفتاح دعا ویله چی د استفتاح دعا دا ده:( اللهم باعد بيني وبين خطاياي كما باعدت بين المشرق والمغرب اللهم نقني من الخطايا كما ينقى الثوب الأبيض من الدنس اللهم اغسل خطاياي بالماء والثلج والبرد "»[صحيح البخارى وصحيح مسلم].

او بعضې اوقات رسول ﷺ دا دعا هم ویله:«سبحانك اللهم وبحمدك وتبارك اسمك وتعالى جدك ولا إله غيرك "»[ رواه الترمذي وأبو داود ].

بیا رسول ﷺ سوره الفاتحه ویله ،او وو رسول ﷺ چې بعضې وخت یې «بسم الله الرحمن الرحیم» په لوړ (تېز) اواز ویله او اکثره وخت یې خفیه (پټه ،آهسته) ویله.

کله چې به رسول ﷺ د سوره الفاتحه نه خلاص شو ،ویل به یې :آمین.او که چېرته جهري لمونځ به وو نو په لوړ یعنی تېز اواز به یې آمین ویلو او وروسته د شا د هغه (مقتدیان د هغه) هم به ورسره آمین ویلو.

او وو رسول ﷺ چی وقفه به یې راوسته په منځ د آمین ویلو او شروع د نورو آیاتو کې ،او وروسته د شروع کولو د نورو آیاتونو به یې خپل غږ تېز کړو.[صحیح البخاری].

**وعن ام سلمة قالت: كانت قراءة رسول الله ﷺ «بسم الله الرحمن الرحيم» الحمدلله رب العالمين.... الى آخر الحديث..[سنن الترمذی]**

یعنې:د ام سلمه نه روایت ده چې:وو قراءت د رسول ﷺ بسم الله الرحمان ، والحمدلله رب العالمین....

کله چی به رسول ﷺ فارغ شو د سوره الفاتحه نه ،ن بله سوره به یې هم ویله ؛او په سهار لمونځ کې به یې طولاني سورتونه ویل او کله چې به په سفر وو یا به یې کوم حاجت لرلو (یا خپل حاجت یا د بل ) نو پخپل قراءت کې به یی تخفیف راوستو ،او اغلبا د ماښام لمونځ کې به یې وړوکي سورتونه ویل او بغیر ددې لمونځونو نه په نورو لمونځونو کې به یې خپل قراءت متوسط کولو۔



کله چې به رسول ﷺ د قراءت نه فارغ شو ،نو سکوت به یې کولو په هغه اندازه چې غوښتل به یې[سنن ترمذی ]رسول ﷺ مخکی ددی څخه چې رکوع وکړی نو تکبیر به یې ویلو په داسې حال کې چې لاسونه به یې د غوږونو نرمو پورې یا برابر د اوږو پورې جګول او بیا به یې رکوع کوله۔







**تعلیق:** پیغمبر ﷺ په څلورو ځایونو کې لاسونه پورته کول۔

- د تکبیر الاحرام وخت کې۔
- د رکوع ته تلو په وخت کې ۔
- د رکوع نه د پورته کېدو په وخت کې۔
- د اول تشهد نه د پورته کېدو په وخت کې د دریم رکعت لپاره۔





رسول الله ﷺ د لاسونو ورغوي به په زنګونو کېښودل ،او د ګوتو منځ کې به يې لږ فراخی راوسته ، او د خپلو اړخونو نه به يې لاسونه لرې نیول ،او هواره(مستقیمه ) به يې نیوله خپله ملا)شا ،او اوږده به يې نیوله خپله شا او هم سر ؛او ملا او سر به يې یو برابر نیولو(ملا او سر به يې یو برابر نیولو چی نه به جګ وو نه ښکته )۔

او وو رسول ﷺ چې په رکوع کې به يې دا فرمایل «سبحان ربی العظیم»[صحیح المسلم] او بعضی وخت به يې ددې دعا سره بله دعا هم ویله : «سبحانک اللهم ربنا وبحمدک ، اللهم اغفرلی».[متفق علیه]

**تعليق:** البته بغير ددې دعاګانو نه ،نورې مسنونې دعاګانې هم شته چې په رکوع کې ويل کېږي چې بعضې د هغه نه به دلته بين کړو ان شاءالله ـ



- " - سُبحان ربى العظيم " [صحيح مسلم].
- " - اللهمَّ لک رکعتُ ، وبک آمنتُ ، ولک أسلمتُ ، خشع لک سمعی وبصری ومخی ، وعظمی وعصبی "[روايت مسلم].
- " - سُبحانک اللهمَّ ربَنا وبحمدک ، اللهمَّ اغفر لی " [صحيح البخاری ومسلم].
- " - سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ ربُ الملائكة والروح " [صحيح مسلم].
- " - سُبحان ذِی الجبروت والملَكُوت والكبرياء والعظمة " [سنن أبو داود].





بيا رسول ﷺ به پورته شو د رکوع نه او خپل لاسونه به يې اوچت کړل په برابر د نرمې د غوږونو يا برابر د خپلو اوږو پورې ، په داسې حال چې ويل به يې (سمع الله لمن حمده) په دې وخت کې به ښه مستقيم ولاړ وو او ويل به يې: (ربنا ولک الحمد) او د رسول ﷺ نه دا هم ثابت دي چې ويل به يې: العبد وكلنا لك عبد اللهم لا مانع لما أعطيت ولا معطي لما منعت ولا ينفع ذا الجد منك الجد " [ رواه مسلم ]

**تعلیـق** :او د اسـلام پیغمبـر دا دعـا هـم ویلـه (حمـدا کثیـرا طیبـا مبارکـا فیـه ) [صـحیح البخاری ].



بیا رسول ﷺ تکبیر ویل او سجدې ته تلو (خو په سجده کې بـه یـې لاسـونه نـه اوچتـول)[صـحیح البخاری ].

بیا رسول ﷺ خپل زنګونونه د لاسونه نه مخکې کېښودل [ابو داؤد ،ترمذی ،ابن ماجه ].

**تعلیـق:** البتـه د امام ابـن خزیمـه تحقیـق پـه خپـل صحی کې دا ده چې اول بـه لاسـونه کېښودل کېږی وروسته زنګونونه [صحیح ابن خزیمه ].



بیا به رسول ﷺ تندی او پوزه په ځمکه کېښوده او وو رسول ﷺ چې لاسونه به یې د خپلو اړخونو نه لرې نیـول تـر دې چې نفر به کولی شو د رخسـار سـپینوالی یـی پـه خـه طریقـه ووینی.[صـحیح البخاری ].

او رسول ﷺ به خپل بازوګان په ځمکه نه هوارول او په سجده کې به یې درې مرتبې ویل «سبحان ربی الاعلی»[صحیح المسلم].



**نامشروع عملونه او خلاف د شرعی چې باید په سجده کې ونکول شی۔**

او بعضې اوقات رسول ﷺ دا هم ویل :«سبحانک اللهم ربنا وبحمدک اللهم اغفرلی».

**تعلیق:** رسول ﷺ دا دعاګانې هم په سجده کې ویلې:

- اللهمَّ لک سجدتُ ، وبک آمنتُ ، ولک أسلمتُ ، سجد وجهی للذی خلقَهُ وصوَّرَهُ ، وشقَّ سمعَهُ وبصَرهُ ، تبارک اللّهُ أحسنُ الخالقین " [صحیح مسلم ] .
- "- اللهمَّ اغفر لی ذنبی کلَه ، دِقَّهُ وجلَّهُ ، وأولَّهُ وآخرَهُ ،وعلانیتَهُ وسرَّهُ " [صحیح مسلم ].
- سُبْحَانکَ وبحمدِک ، لا إلهَ إلاَّ أنْتَ " [صحیح مسلم].
- "-اللَّهُمَّ إِنِّی أَعُوذُ بِرضَاکَ مِنْ سَخَطِك ، وبمُعافاتِکَ مِنْ عُقوبتِک ، وَأَعُوذُ بِک مِنْک ، لا أُحْصِی ثَنَاءً علیکَ أَنْتَ کما أثنیتَ علی نَفْسِکَ " [صحیح مسلم].

رسول الله ﷺ په سجده کې اعتدال(میانه روی ) نه کار اخیستو او د پښو ګوتې به یې په سجده کې قبلې طرف ته اوړدولې[صحیح البخاری ]



رسول الله ﷺ د خپلې سجدې په منځ کې ویل :اللهم اغفرلی وارحمنی واهدنی وارزقنی -او د رسول علیه السلام نه دا هم روایت شوي چې د دوو سجدو په منځ کې به یې ویل :رب اغفرلی ،رب اغفرلی -[ابو داؤد ابن ماجه نسائی ]

رسول الله ﷺ د دوو سجدو منځ کې به دومره اندازې پورې کیناسلو چې نفر به دا فکر وکړو چې ګویا دوهمه سجده ترې هېره شوې[ متفق علیه ].



[کله چې به د اولې سجدې نه اوچتېدو نو تکبیر به یی ویل اول به یې سر اوچتولو وروسته به یې لاسونه اوچتول ،بیا به کېناستلو چې خپله چپه پښه به یی فرش کوله (هوارولە یی)او په هغه به کیناستلو ،او ښي پښه به یې اوچته اودروله او په ځمکه به یې نصب کوله ـ

او د پښو ګوتې به یې قبلې طرف ته کولې [صحیح البخاری ونسائی ]

بيا رسول ﷺ دوهمه سجده کوله  او دوهمه سجده به یې د اولې سجدې پشان وه کله چې به رسول ﷺ د سجدې نه اوچتیده یو لحظه به په خپل ځای کې کېناستلو [صحيح البخاری وترمذي]



بیا به چې رسول ﷺ توان لرلو نو د خپلو پښو او زنګونونو په زور به بل رکعت ته اوچتیدو ،او که چېرته به یې توان نلرلو ،نو دواړه لاسونه به یې په ځمکه کېښودل او بیا به د خپلو لاسونو په زور باندی اوچتیدو بل رکعت ته[صحيح البخاری]

کله چې به رسول ﷺ دوهم رکعت ته اوچت شو ،قراءت به یې شروع کړو ،او سکوت به یې نه کولو او استعاذه به یې په دې رکعت کې نه ویله څرنګه چې به یې په اول رکعت کې ویله ، ځکه کې استعاذه په اول رکعت کې کافی ده ، او وو رسول ﷺ چې دوهم رکعت به یې د اول رکعت پشان کولو مګر څلور شیزونه به یې نکول (سکوت ،استفتاح ،الاحرام ،طولانی ویل رکعت) (اول رکعت باید طولانی اوږد وی).

کله چې به رسول ﷺ په تشهد کېناستو ،نو خپل ښي لاس به يې په ښي زنګون کېښود او د ښي لاس ګوتې به يې جمع کړې داسې چې:دوه ګوتې(خنصر ،بنصر ) او ابهام ګوته به يې حلقه کړه او سبابه ګوته به يې اوچته نیوله او په سبابه ګوته به يې اشاره کوله او په خپلو سترګو به يې سبابه ګوتې ته کتل.



**تعليق:**بعضې مسايل اشاره د سبابه ګوتې ته:

حرکت ورکول ګوتې ته ، او کتل د هغه په لورې ،او بعضې وخت به د ښي لاس ټولې ګوتې مشت(موټی) شي او ابهام ګوته به په منځنۍ ګوته کېښودل شی ،او بعضې وخت ابهام ګوته د منځنۍ ګوتې سره دې حلقه شي ،او د سبابه (شهاده)ګوتې سره دې قبلې ته اشاره وشي ،او خپلې ګوتې ته دې ګوري ،او د اول د تشهد نه دې تر اخره هغې ته حرکت ورکوي او په هغې دې دعا وشي ،او د چپ لاس په ګوته دې اشاره نکوي ،او دا ټول چې بیان شول دا دې په تشهد کې وکړای شي.

او په صحیح حدیث کې نقل دي چې:(لهى أشد على الشيطان من الحديد)[ صحيح د احمد روایت]

پدې معنی چې حرکت ورکول د ښي لاس سبابه (شهاده)ګوتې ته شیطان ته د اوسپنې د وهلو نه هم سخت دي.



رسول ﷺ په اول تشهد کې داسې وو : په خپلې چپې پښې کېناسته او خپله ښي پښه به يې نصب کوله او د ښي پښې ګوتې به يې قبلې طرف ته وې د اول تشهد جلسه په احاديثو کې همدومره ده او بس .



او وو رسول ﷺ چې ویل به یې په تشهد کې:«التحيات لله والصلوات والطيبات السلام عليك أيها النبي ورحمة الله وبركاته السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن مُحَّدا عبده ورسوله " »[صحيح البخاری.]

او وو رسول ﷺ چې اول تشهد به يې دومره لنډ ویلې چې تا به فکر کوو په ګرمه تيږه ناست دی۔

**تعليق:**اول تشهد داتحيات بايدکوم ځای پورې ووايو؟؟ آيا پر پيغمبر ﷺ په اول تشهد کې درود ووايو؟؟

ابن مسعود وايې:رسول ﷺ پداسې حال کې چې زماد لاسونو ورغوي يې خپل لاسونو کې ايښي وو تشهد يې ماته د قرآن د سورې په شکل داسې ياد کړو :

«التّحياتلله ، و الصّلوات و الطّيبات ، السّلام عليک أيها النّبى! و رحمة الله و برکاته ، السّلام علينا و على عباد الله الصّالحين ، «أشهد أن لاإله‌إلااله ، و أشهد أن مُحَمَّداً عبده و رسوله» [بخارى و مسلم «الارواء» ، (٣٢١) ].

- دا د اول تشهد متن دی اما ددې نه بعد عبارات سنت دي چې پر پيغمبر ﷺ درود او صلوات وويل شي۔

يو روايت ده چې رسول ﷺ په دواړو تشهدو کې ،پر ځان درود ويل(ابو عوانه په خپل صحيح کې (٢|٣٤٢ نسايى) او دا امر يې پخپل امت مسنون مقرر کړو ، چې بعد له لمونځ نه دې هم درود وويل شي۔

شيخ ناصر الدين البانى (د اسلام يو لوی محدث) رحمه الله په (صفة د مونځ د پيغمبر ﷺ) کې ليکي ، چې صحابه وو عرض وکړو ای د الله رسوله مونږ ياد کړل چې څنګه پر تا سلام ووايو ؛

خو ووايه : څرنګه پر تا درود ووايو ؟ رسول عليه السلام وفرمايل ووايې:

(اللهم صل على محمّد ﷺ ـ ـ ـ) او پدې حديث کې تصريح نده شوې چې په کوم تشهد کې درود وويل شي ، په نظر رسېږي چې درود ويل په اول تشهد کې مشروع دى څرنګه چې په شافعى مذهب کې همداسې ده او هغه يې په (الام) کتاب کې تصريح کړې او نووى په (الروضه)(١|٢٦٣) او (المجموع)(٣|٤٦٠) کې همداسې ويلې دي ـ:

ګڼ شمې احاديث لرو چې هيڅ يو د هغې درود اخر تشهد ته مختص (خاص) شوى نده ـ بنابر هغوئ چې د درود ويلو په اول تشهد کې منع کوي کوم دليل په لاس کې نلرى ـ همدا مکروه ګڼل پر زيادت د (اللهم صل ـ ـ) په اول تشهد کې بغير د دليل نه ادعا ده بکله مخالف د عموم قول د رسول عليه السلام ده چې فرمايلې يې دى(اللهم صل على محمّد ـ ـ ـ).

امام شافعى په ( الام) (١|١٠٢) کې وايې: تشهد په دواړو کېناستلو کې بايد يو قسم قراءت شي منظور مې دا ده چې تشهد بايد په درود سره وويل شى هيڅ يو د هغوئ نه دبل ځاى نه نيسي ـ

**بله مسأله:** په تشهد کې ويل د (السلام عليک )هم صحيح ده او ويل د (السلام على النبى ) هم صحى ده ـ

رسول ﷺ وفات شوی او زمونږ اواز نه اوري ،که چرته چا په رسول ﷺ صلوات وویل نو الله متعال ملایکې مسؤله کړي چې دا صلوات او سلام مُحَمَّد علیه السلام ته ورسوي۔

اما پدې مورد کې چې ولې یې په لمونځ کې وایو :السلام علیک ایها النبی ،ددې لپاره ده چې په صحیح حدیث کې راغلی چې په لمونځ کې داسې ووایو ،لیکن حافظ ابن حجر در فتح الباری (۲\۳۱٤) د (السلام علیک ایها النبی ورحمة الله وبرکاته)باره کې فرمایی :

په بعضې احادیثو کې ابن مسعود فرق یه منځ د رسول ﷺ د حیات زمانې او بعد له هغه نه کړی پدې صورت چې د رسول ﷺ په زمانه کې سلام د خطاب په لفظ اما وروسته له هغه نه د غایب لفظ (السلام علی النبی۔۔) ویل کېده۔

او صحیح البخاری (الاستئذان کتاب) د ابی معمر له طریقه راغلی چې ابن مسعود بعد د روایت د حدیث نه تشهد وویل (وهو بین ظهرانینا۔۔۔۔) دا پدې وخت وو چې رسول ﷺ زمونږ په منځ کې وو او کله چې وفات شو ومو ویل السلام علی النبی ،دا د بخاری روایت دی۔

عبد الرزاق فرمایی:

ابن جریح له عطا څخه مونږ ته خبر راکړو چې صحابه وو د رسول ﷺ د حیات په وخت کې به ویل :(السلام علیک ایها النبی )خو کله چې وفات شو ویل به یی(السلام علی النبی ) او اسناد یی صحیح دی ۔

شیخ البانی رحمه الله په "صفة الصلاة" (صفحه ١٢٦ ) کې فرمایی:دا امر حتما د رسول ﷺ په دستور ده او دا چې عایشه رضی الله عنها په همدې طریق تهشد صحابه وو ته یادوه چې ووایی:(السلام علی النبی ) دا مطلب یی تأیید کوو ۔

سراج پخپل مسند کې (ج ٩\٢\١ ) دا حدیث راوړی ، مخلص په الفواید (ج ١١\٥٤\١ )په دوو صحیح سندونو له عایشې نه راوړی ۔

لیکن دا هم ویل ( السلام علی النبی )جایز دی او هم (السلام علیک ایها النبی ) ولې دا چې ویل کیږی (السلام علیک ایها النبی ) په هیڅ وجه د رسول علیه السلام ژوندی توب ته نه رسیږی ۔

رسول ﷺ چې کله اول تشهد خلاصوه بیا تکبیر ویونکی به پورته شو که چرته به یی توان وو د پښو په قوت به پورته شو او که چرته به یی توان نه وو لاسونه به یی په ځمکه کېښودل او د هغه په قوت به پورته شو کله چې به د دریم رکعت لپاره پورته کیدو ۔ ۔



لاسونه به یې د غوږونو نرمی ته یا د اوږو برابر پورته کول [متفق علیه] رسول ﷺ سوره فاتحه ویله ـ

**تعلیق:** ضم د سورې او یا( یو ځای کول د څو آیتونو وروسته د سورة فاتحه ) سنت دی ـ

او بعضې د علماء وو لکه:امام بخاری رحمه الله ،او امام دارالقطنی ورته واجب وایی ،صحیح قول همدا ده چې سنت دی د سوره فاتحې سره په څلور رکعتو ، دوه رکعتو ، درې رکعتو ،او تولو رکعتونو کې سوره او نور آیاتونه وویل شی ـ(صحیح المسلم)

•·····•✿ ❀ ✿•·····•

وو رسول ﷺ کله چې به په اخر تشهد کې کېناستو ،نو د تورک په شکل به کېناستلو ـ(صحیح البخاری)



**تعليق:** رسول ﷺ وروسته د خلاصېدو د اخر رکعت نه د اخر تشهد لپاره ،کېناستلو او د هغه لپاره به يې هغه دستور وروکولو کوم چې يې د اول تشهد لپاره ورکړی وو او هماغه عمل به يی کولو۔

چې په اول تشهد کې يې کړی وو ،پدې تفاوت (فرق)چې په اخر تشهد کې ،د تورک په شکل کېناستو ،يعني چپ کُناتی يې په ځمکه کېښودلو (د بخاری روايت) او ښي پښي يې ښي طرف ځخه بېرون کولې(ابو داود او بيهقی روايت)، پداسې طريقه چې چپه پښه يې د ښي کُناتي او پنډۍ لاندې وه۔د مسلم روايت۔



د تورک طريقه

- بعضې وخت يې ښي پښه نصب کوله (د بخاری روايت) او بعضې وخت يې خملوله۔(د مسلم روايت)،

د چپې پښې زنګون يې په خپلې پنجه کې نيولو او په هغه يې تکيه کوله(د مسلم روايت) دلته يې هم درود په خپل ځان مشروع کړی وو لکه څرنګه چې يې په اول تشهد کې مشروع کړی وو۔

او وو د رسول ﷺ ددوهم تشهد کيفيت د اول تشهد په قسم ،رسول ﷺ په دوهم تشهد کې ويل: :« التحيات لله والصلوات والطيبات السلام عليک أيها النبی ورحمة الله وبركاته السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن مُحَمَّدًا عبده ورسوله " »[صحيح البخاری ومسلم].

او وروسته يې ويل: « "اللهم صل على مُحَمَّد وعلى آل مُحَمَّد كما صليت على آل إبراهيم إنک حميد مجيد اللهم بارک على مُحَمَّد وعلى آل مُحَمَّد كما باركت على آل إبراهيم إنک حميد مجيد " »[صحيح البخارى ومسلم].

کله چې رسول ﷺ د تشهد څخه فارغ کېدو ،مخکې له دعا څخه يې د څلورو شيزونو پناه غوښته او ويل يې: «اللهم انى اعوذبک من عذاب جهنم ومن عذاب القبر ومن فتنة المحيا والممات ومن شر المسيح الدجال "» .

البته ويل ددې پناه غوښتلو په نزد د بعضې علماءو واجب ده ځکه چې رسول عليه السلام پرې امر کړی او فرمايلي يې دی: اذا فرغ احدكم من التشهد الاخر فليتعوذ بالله من اربع (صحيح المسلم).

او وروسته ددې استعاذې رسول ﷺ نورې قسماقسم دعاګانې ويلې او يو د هغې دعاګانو څخه چې رسول ﷺ ابوبكر رضى الله عنه ته تعليم ورکړی وو چې ووايه:« اللهم إني ظلمت نفسي ظلما كثيرا ولا يغفر الذنوب إلا أنت فاغفر لي مغفرة من عندك وارحمني إنك أنت الغفور الرحيم "»[متفق عليه].

او بله دعا يې هم ويله : «اللهم انى اعوذبک من المأثم والمغرم»[متفق عليه].



وروسته رسول ﷺ د تشهد د ختمېدو او دعا څخه ښي طرف ته په لفظ د (السلام عليكم ورحمت الله) سلام اړولو.



تر دې چې رخسار یې خپل لیدل ، او چپ طرف ته یې هم په لفظ د (السلام علیکم ورحمت الله) سلام اړولو تر دې چې رخسارونه به یې ولیدل.

کله چې رسول ﷺ سلام اړولو ،پداسې حال چې مخ به یې قبلې ته وو ،درې دفعه یې استغفار طلب کولو(استغفرالله) او وروسته یې ویل : « اللهم أنت السلام ومنك السلام تباركت يا ذا الجلال والإكرام " » . [رواه مسلم].

تر یو وخته پورې به یې مخ قبلې ته وو او اذکار به یې ویل ،وروسته به رسول علیه السلام مخ خلکو (لمونځ کوونکو ته) اړوه ، بعضې وخت به یې مبارک مخ د ښي طرف نه خلکو ته اړوه بعضې وخت به یې چپ طرف څخه اړوه.

**تعلیق:** رسول علیه السلام وروسته د دعا د ختمېدو څخه بعضې وخت خپل لاسونه اوچتول او بعضې وخت یې نه اوچتول ، او هیڅکله یی پخپل مخ باندی نه راخکل ، او هیڅکله د رسول علیه السلام څخه ثابت نده چې د فرض مونځ یا سنت لمونځ څخه بعد یې د لمونځ کوونکو سره دسته جمعی دعا کړي وی.

ومن الله التوفيق

ام دجانه|یوم الجمعة.

**زیری: دشیخ الاسلام ابن تیمیه ژوند او خدمتونه کتاب چاپ شو**




قیمت(۳۰)افغانی

## ددی قیمتی او مهم رساله مطالعه پرتولو مسلمانانو لازمه ده.

**پته۱ : اسحاق زی مارکیت ، مارکیت کتابخانه ، مسلم کتابخانه–جلال اباد**

**پته۲ : کابل– الحرم کتابخانه– (جاده میوند سرچوک).**

**پته۳:حکمت خپرندویه تولنه، اسحاق زی مارکیت،مارکیت کتابخانه–جلال آباد**